بسم الله الرحمن الرحيم

# د مسلمانانو قوت او د غرب کمزوري

## (ژباړه)

هر کله چې د نبوت پر تګلاره د خلافت دولت د تاسیس لپاره او د الله سبحانه وتعالی د شریعت پلي کېدو ته خلک رابولو، ځینې خلک پیدا کېږي او موږ ته په دې خبره د رد ځواب راکوي چې غرب ډېر پیاوړی او قوي دی. د هغوی په وینا، که خلافت دولت اعلان کړو، ټول دولتونه به پر موږ برید وکړي او تر هغه وروسته به هېڅ وخت د پاڅېدو وس ونه لرو.

هو دوی همداسې وايي او د هغوی د دغو خبرو سرچینه په سم ډول د خپل دښمن نه پېژندنې او له هغو مفاهېمو څخه لېرېوالي ته ورګرځي چې نصرت د الله سبحانه وتعالی په لاس دی.

موږ وایو: الله سبحانه وتعالی له موږ سره د نصرت ژمنه کړې او انشاءالله نصرت راتلونکی دی، دا زموږ لپاره یو حتمي امر دی. همدارنګه هر مسلمان باید پر دې پوه شي چې رزق، نصرت، مرګ او ... د الله سبحانه وتعالی په لاس دي.

﴿**وَمَا النَّصْرُ إِلَّا مِنْ عِندِ اللَّهِ إِنَّ اللَّهَ عَزِيزٌ حَكِيمٌ**﴾ [آل عمران: 126]

***ژباړه:*** *نصرت د نه ماتې منونکي، باحکمته او پوه الله سبحانه وتعالی له لورې دی.*

دا چې نصرت د الله سبحانه وتعالی له لوري دی، په دې مانا نه ده چې له اسبابو کار وانه خلو او خپل دښمن ته په رښتینې ډول ونه ګورو.

موږ وایو: هغه فکره چې غرب یې لېږدونکی دی، ډېر ژر به انشاء الله له صحنې لېرې شي. غرب د داسې رښتینې اړیکې په جوړېدو کې پاتې راغلی چې په واسطه یې د خلکو تر منځ ښې اړیکې ټینګې کړي. په غربي ټولنه کې اوسنۍ واکمنه اړیکه مصلحتي ده، ژوند یې هم د مصلحت پر اساس ولاړ دی او د ژوند په اړه یې دید مادي دی.

پر همدغه اساس، د حیرانتیا وړ به نه وي کله چې غرب د خپل دښمن تر څنګ ولاړ وي او له کومې ستونزې پرته له هغه څخه ملاتړ کوي؟ ځکه د غربي دولتونو تر منځ اساس منفعت او مصلحت دی او د دغه مصحلت رښتیا کېدو لپاره کله چې اړ شي، نو د خپل دښمن تر څنګ به هم ولاړ وي. د بېلګې په توګه، عثماني خلافت او د چا پر ضد؟ د خپلو عقیدوي ورونو پر وړاندې هغه هم که دغه تعبیر سم وي.

د ډېر وضاحت لپاره که ژوندی مثال راوړو هغه د بندیزونو او پرېکون پېښه وي، بیا ولې مسلمانانو د فرانسې د اجناسو د پېر او پلور په بندیز او د اړیکو په پرېکېدو کې یو بل ته لاسونه سره ورکړل؟ په هغه اړیکه کې مسلمانان له یو بل سره یوځای کوي، مصلحت او منفعت نه دی، بلکې اسلامي عقیده او د حلال او حرام فکره ده. له همدې امله د حیرانتیا ځای دی چې د فرانسې پر وړاندې غني او فقیر، کمزوري او پیاوړي، تور او سپین، عرب او عجم، دولتونو او لاسپوڅو واکمنانو یو بل ته لاسونه ورکړل او له فرانسې سره یې اړیکې پرې کړې. خو د الله سبحانه وتعالی په فضل سره اسلامي امت پر خپلو لاسپوڅو حکامو باور نه لري، بلکې پر خپل دین منګولې لګوي او هغه ته نصرت ورکوي. هغه کسان چې د کمزوري زړه څښتن دي، ورته وایو چې له الله سبحانه وتعالی څخه وډار شي.

﴿أَتَخْشَوْنَهُمْ فَاللَّهُ أَحَقُّ أَن تَخْشَوْهُ إِن كُنتُم مُّؤْمِنِينَ﴾ [التوبه:13]

ژباړه: *ایا له هغوی (دښمنانو) وېرېږئ او جګړې ته نه دانګئ؟ اړتیا ده چې له الله سبحانه وتعالی څخه وډار شئ او د الله سبحانه وتعالی له نافرمانی څخه ډډه وکړئ، که په رښتیا ایمان لرئ او رښتینې مومنان یاست.*

**لیکوال: محمد درده**

**ژباړه: بهیر «ویاړ»**